# تحلیل

گڼه – ۳۷۵مه

۲۴ ثور ۱۴۰۱ هـ ش

# د اسلامي امارت د ملي پخلاينې هڅې؛ خنډونه او فرصتونه



**لیکنه:** د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز (CSRS)

# لیکلړ


د اسلامي امارت د ملي پخلاینې هڅې؛ خنډونه او فرصتونه ........................................ 3

سریزه ........................................................................................ 3

ملي پخلاینه په څه معنا؟ ........................................................................ 4

د بین الافغاني تفاهم اړتیا ........................................................................ 5

د ملي مصالحې لپاره شته فرصتونه ................................................................ 6

د ملي مصالحې پر وړاندې شته خنډونه ............................................................. 7

د ملي مصالحې په برخه کې شوي اقدامات او اغېزې یې .............................................. 8

د ملي پخلاینې لپاره راتلونکي ګامونه او لارنقشه ................................................. 11

د ملي مصالحې د هڅو متوقع پایلې ................................................................ 12


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د اسلامي امارت د ملي پخلاينې هڅې؛ خنډونه او فرصتونه

## سریزه

د افغانستان د قضيې په اړه په تېرو شلو کلونو کې يو بنسټيز تصور دا و، چې د جګړې پايدار ختم او پای ته رسېدل د يوه داسې نظام په رامنځته کېدو سره ممکن دي، چې ټول افغانان پکې خپل ځان وګوري او څوک يې په مخالفت کې ولاړ نه وي. اوس چې د اشغال له پای ته رسېدو وروسته په هېواد کې نظام بدلون موندلی، د بياځلې ګډوډيو او بې ثباتۍ د مخنيوي او اوسنۍ تجربې د کاميابۍ لپاره په ټوله کې دوه نظرونه يا سناريوګانې شته دي. لومړی دا چې يو تک حزبي نظام حاکم وي او د هېواد څينې ډلې او پرګنې يې په يوه نوم او بل نوم په مخالفت کې واقع وي. دويم دا چې داسې نظام رامنځته شي چې څوک يې په مخالفت کې واقع نه شي، بلکې ځان د هغه نظام برخه وګڼي. که د تېرو څو لسيزو تجربې ته وګورو، همدا دويمه سناريو په هېواد کې اوږدمهالی ثبات تضمينولی شي.

دا چې د تېرې شل کلنې دورې واکمنان نه يوازې دا چې هېواد ته د آرامۍ او سوکالۍ په راوستلو کې ناکام ثابت شول، بلکې ډېری يې د هېواد د شتمنيو پر لوټ او تالان هم تورن دي، څکه نو بياځلې واک ته رسېدل يې هېواد له ستونزو او ناخوالو نه شي راايستلی. خو د دې ترڅنګ دا تصور هم شته دی، چې د پخوانيو ټولو سياسي لوبغاړو بشپړ له صحنې ايستل او د حذف پاليسي د تېرو ناکامو تجربو تکرار دی او دا چاره د هېواد د بحراني وضعيت د دوام او لا خرابېدو يو اساسي لامل بلل کېږي. څکه د اسلامي امارت د سرپرست حکومت له جوړېدو راوروسته داسې ښکاري چې د افغانستان په سياست کې د تېرو څو لسيزو ښکېل لوبغاړي او نور بې طرفه سياسيون په بشپړ ډول له صحنې ايستل شوي دي.

د افغانستان د اسلامي امارت په توګه طالبان اوسمهال د يوه مسؤول حکومت په موقف کې دي او له هېوادنيو قضاياوو سره يې سرسري چلند د هېواد د راتلونکي لپاره نبې پايلې نه شي لرلی. سره له دې چې تازه د اسلامي امارت کابينې له افغانانو سره د اړيکو او هېواد ته يې د راستنولو کميسيون جوړ کړی، خو د تېرو څو مياشتو له چلنده داسې ښکاري ټولو سياسي احزابو، ټولنو، پخوانيو چارواکو، سياسيونو او ملي څېرو ته ان د مشورې په کچه هم د رول ورکولو ته چمتووالی نشته او داسې تفکر حاکم دی چې له عمومي عفوې سره پخوانيو سياسيونو ته په هېواد کې د ژوند کولو حق ورکړل شوی او هغوی د نورو غوښتنو حق نه لري او نه هم له هغوی سره د هېوادنيو قضاياوو په اړه د خبرو اترو اړتيا شته ده. مګر که دا وضعيت دوام کوي، اسلامي امارت ته د هغوی له لوري د ستونزو او ننګونو جوړولو قوي


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

امکان شته دی چې هغه مهال به بیا له هغوی سره د ملي پخلاینې اوسنی فرصت ضایع شوی وي. له دې کبله، په هېواد کې د اوږدمهالي ثبات، په راتلونکي کې د جګړې د عواملو له منځه وړلو او نورو ګڼو دلیلونو له مخې د ملي مصالحې لپاره عاجل او جدي اقدام په اوسني وخت کې یو مهم ملي لومړیتوب او فرصت ګڼل کېږي، چې متوقع پایلې یې د هېواد د راتلونکي ثبات لپاره خورا مهمې دي.

همدا راز که له یوې خوا د تېرو وختونو له سیاسي لوبغاړو سره د ډیالوګ او خبرو اترو او د هغوی پر غوښتنو د بحث اړتیا شته ده؛ خو ترڅنګ ملي تفاهم تر ډېره له ولس سره هم تړلی دی او په اوسني وخت کې اړتیا ده چې له بېلابېلو قشرونو څخه نوي علمي او ټولنیز شخصیتونه هم راپورته کړل شي او د هېوادنیو قضایاوو په اړه په مشورو او پرېکړو کې شریک شي.

په دې مقاله کې د ملي مصالحې لپاره د جدي او عاجل اقدام پر اړتیا، په دې تړاو شته فرصتونو او خنډونو، د اسلامي امارت له لوري تراوسه شوو اقداماتو، د راتلونکو اقداماتو پر لارنقشې، او د ملي مصالحې د بریالي کېدو په صورت کې یې پر متوقع پایلو بحث کوو.

## ملي پخلاینه په څه معنا؟

د ملي مصالحې او ملي تفاهم معنا دا ده، چې د ناراضي افغانانو له لوري د هېواد راتلونکي ثبات ته شته ګواښونه له منځه یوړل شي یا لږ تر لږه حداقل ته راورسول شي. دلته ترکیز یوازې پر هغو افغانانو هم نه دی چې بهر ته تللي، بلکې په هېواد کې دننه ډېر سیاسي شخصیتونه او جریانونه او په ټوله افغان ولس ته په ملي قضیاوو کې د هر ډول رول څرک نه لیدل کېږي.

ملي مصالحه په دې معنا نه ده چې پخواني فاسد چارواکي بېرته واک ته ورسول شي او یا د تېرې شل کلنې دورې په څېر واک ورسره ووېشل شي، بلکې معنا یې دا ده چې د هېواد د راتلونکي په اړه د ټولو افغانانو غوښتنې او اندېښنې په پام کې ونیول شي، له هغوی سره د دوی د اندېښنو او غوښتنو په اړه بحثونه پیل شي، او په نظام او هېوادنیو قضایاوو کې د ولس رول تعریف شي ترڅو د مخالفتونو او بیا جګړو او ګډوډیو مخنیوی وشي او د مخالفتونو په له منځه وړلو سره د هېواد راتلونکی سیاسي او امنیتي ثبات تضمین شي، کوم څه چې یوازې د زور او ځواک د کارولو له لارې ممکن نه دي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د بین الافغاني تفاهم اړتیا

ملي تفاهم په مجموع کې د هرې ټولنې یوه مهمه اړتیا ده او په ځانګړې توګه په افغانستان کې د تېرو څو لسیزو تحولاتو ثابته کړې چې هر کله واکمنانو له خپلو سیاسي مخالفینو سره له تفاهم او پخلاینې څخه استغنا کړې، واک یې دوام نه دی لرلی او د وخت په تېرېدو سره له ستونزو او ننګونو سره مخ شوي، چې بالآخره له همدې امله حکومتونه هم نړېدلي دي.

د پخواني نظام له ړنګېدو وروسته د تېرو څو میاشتو تحولاتو وښوده، چې اوسمهال د نظام له سیاسي مخالفینو سره سیاسي تعامل نشته، بلکې د نظام خواخوږو افرادو او جریانونو ته هم د نظام په جوړښت او راتلونکي برخلیک کې هېڅ ډول رول نه ورکول کېږي. که څه هم ظاهرا د حکومت پالیسي دا ده، چې پخواني چارواکي د عامو افغانانو په توګه په هېواد کې ژوند کولی شي، خو باور دا دی چې له هېواده وتلي ډېری سیاسیون به یوازې په افغانستان کې د ژوند کولو لپاره راستانه نه شي او له نظام سره به له مخالفت څخه لاس وانه خلي، ځکه نو له هغوی سره د هغوی د غوښتنو په اړه مذاکره او تفاهم پکار دی. له دې کبله داسې انګېرنې شته دي، چې د سیاسي مخالفینو له پامه غورځول به په لنډمهال او منځمهال کې اوسنی نظام له ستونزو او ننګونو سره مخ کړي. لاندې یو شمېر دغو ستونزو او ننګونو او د ملي تفاهم اړتیا ته د مثال په توګه اشاره کوو:

**لومړی:** ملي تفاهم او د سیاسي مخالفینو پخلاینه په افغانستان کې د ګډوډیو او لاسوهنو د مخنیوي یوازېنۍ هغه لاره ده چې د تېرو څو لسیزو تجربو یې اهمیت روښانه کړی دی. د افغانستان په داخلي چارو کې د بهرنیو استخباراتي کړیو او د واکمن نظام د مخالفو هېوادونو د لاسوهنې یوازېنۍ وسیله اوسمهال هغه ناراضي افغانان دي، چې په تېرو وختونو کې یې د هېواد په سیاست کې مهم رول لوبولی دی. که اوسنی وضعیت دوام وکړي، استخباراتي کړۍ او د افغانستان دښمن هېوادونه به ورو ورو همدا ناراضي سیاستوال د واکمن نظام پرضد تقویه کړي او هغه مهال به بیا د تفاهم اوسنی زرین فرصت له لاسه وتلی وي. باید په یاد ولرو چې تخریب تر تعمیر اسانه دی او که اوسنی وضعیت دوام وکړي، ښایي د نظام مخالفینو ته ورو ورو د سربازګیرۍ زمینې برابرې شي.

**دویم:** اوسمهال د یوه پراخ بنسټه حکومت رامنځته کېدل د نړیوالو له نظره د افغانستان د ستونزې یوازېنی حل او د نوي حکومت په رسمیت پېژندلو مخشرط بلل کېږي. د ملي تفاهم او ملي مصالحې په نشتون کې به واکمن نظام تر یوه لوري (طالبانو) پورې محدود ګڼل کېږي او د مشروعیت بحران به دوام ولري. د دغه بحران له کبله افغانستان په سیاسي برخه کې د داخلي او نړیوال مشروعیت، اقتصادي ناخوالو او احتمالي ناامنیو له ګواښ سره مخ دی. له هېواده د وتلو او په ځانګړې توګه ناراضي سیاسي څېرو بېرته راتګ به دا تشه تر ډېره ډکه کړي. له بلې خوا د ټولشموله

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

نظام غوښتنه یوازې د اسلامي امارت د مخالفینو غوښتنه هم نه ده، بلکې د هېواد ټولې پرګنې غواړي چې په نظام کې خپل ځان او خپل عزت خوندي وګوري.

**دریم:** هغه سیاسیون چې اوس له هېواده وتلي، طبعي خبره ده چې په داخل کې ځینې خواخوږي او پلویان لري. که د دغو سیاسیونو ډېره برخه راپخلا شي، په داخلي کچه به د خلکو د رضایت کچه لوړه شي او هم به په راتلونکې کې د مخالفتونو او ګواښونو د مخنیوي په برخه کې اغېزناک ثابت شي.

## د ملي مصالحې لپاره شته فرصتونه

د ملي روغې جوړې او مصالحې لپاره په اوسني وخت کې خورا زیات فرصتونه شته دي او د وخت په تېرېدو سره ښایي دا فرصتونه له منځه ولاړ شي. څو دغو فرصتونو ته په لاندې کرښو کې اشاره کوو:

- تر ټولو لومړی فرصت دا دی، چې اوسمهال په هېواد کې جګړه درېدلې او اوسنۍ نسبي آرامي د اوږدمهالي ثبات لپاره د هڅو یو ښه فرصت دی. افغانان له اوږدو جګړو ستړي شوي او ټول افغانان به د ملي مصالحې د هڅو ملاتړ وکړي. همدا راز په هېواد کې د جګړې درېدل او د امنیتي وضعیت نسبي ښه والی د دې لامل هم کېدای شي، چې اکثریت سیاسي مخالفین په ډېرې کمې هڅونې سره هېواد ته بېرته راګرځېدو ته زړه ښه کړي. حقیقت دا دی، چې یو زیات شمېر خلک د جګړو، ناامنیو او سیاسي محدودیتونو له کبله او د خپل سر د خوندیتوب په موخه له هېواده وتلي دي.
- د اسلامي امارت له لوري د عمومي عفوې اعلان او تر ډېره حده د دغه فرمان عملي کېدو د ملي مصالحې او روغې جوړې لپاره خورا زیاته زمینه برابره کړې ده او دا د ملي روغې جوړې په برخه کې یو ښه پیل بلل کېږي. له دې کبله اوسمهال د اعتماد فضا او د مخالفینو راضي کولو پوره زمینه مساعده شوې ده.
- د اسلامي امارت له راتګ وروسته یو شمېر جګړه‌يي سیاسیون په هېواد کې پاتې دي او د هغوی خبره په ملي او نړیواله کچه خپل وزن او ځای لري. دا یو غوره فرصت دی، چې د نورو سیاسي مخالفینو د پخلاینې لپاره هغوی ته فرصت ورکړل شي او د هغوی له اعتبار څخه په دې برخه کې کار واخیستل شي.
- اوسمهال اسلامي امارت د هېواد پر ټوله خاوره بشپړه واکمني لري او ډېری سیاسي شخصیتونه اوس په داسې موقف کې دي چې د هغوی حداقل غوښتنې منل کېدل ښایي هغوی دې ته راضي کړي چې له مخالفت څخه لاس واخلي او هېواد ته راوګرځي. همدا راز د اسلامي امارت بشپړې واکمنۍ او خپلواکۍ دا زمینه هم مساعده کړې چې په ملي قضایاوو کې له بهرنیو فشارونو او ملاحظاتو پرته د ملي او اسلامي ګټو له مخې تصامیم ونیول شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

- د سيمې او نړۍ په کچه هم د ځينو استثناوو ترڅنګ د ډېرى هېوادونو پاليسي دا ده چې په اوسنيو شرايطو کې د اسلامي امارت پر وړاندې د وسله وال مقاومت او مخالفت ملاتړ نه کوي، بلکې غواړي چې په افغانستان کې يو ټول شموله او مسؤول نظام رامنځته شي. په دې توګه د هغو هېوادونو له چارواکو او نورو اغېزناکو لورو سره چې د نظام سياسي مخالفينو ته يې پناه ورکړې ده، د خبرو اترو له لارې دا زمينه برابره شي چې اړوند ناراضي افغانان له اسلامي امارت سره مذاکراتو ته وهڅوي او د تفاهم په صورت کې بېرته خپل هېواد ته راوګرځي.
- بل خورا مهم فرصت دا دی، چې اوسمهال د اسلامي امارت مخالفين کوم محوري ځای او واحده جبهه نه لري او له همدې کبله اوس له هغوی سره جلا جلا خبرې کېدای شي. په داسې حال کې چې د طالبانو اکثريت مخالفين پرله پسې هڅې کوي، چې ترمنځ يې انسجام او تفاهم رامنځته شي او د هغوی ترمنځ د يووالي رامنځته کېدو په صورت کې به له هغوی سره د تفاهم او روغې جوړې چاره هم په کافي اندازه ستونزمنه وي. په ځانګړې توګه که هغوی پر يوه محور راټول شي او د بهلګې په توګه کومه جلاوطنه اداره جوړه کړي، په هغه صورت کې به بيا دا چاره ستونزمنه شي.

## د ملي مصالحې پر وړاندې شته خنډونه

په اوسني وخت کې د ملي مصالحې لپاره د ګڼو فرصتونو ترڅنګ يو شمېر داسې خنډونه هم شته چې پېژندل يې اړين دي؛ څکه همدغو خنډونو اوس د ملي مصالحې لپاره د اقدام مخه ډب کړې او د دغه زرين فرصت د ضايع کېدو سبب کېږي:

- د ملي مصالحې او د سياسي مخالفينو د پخلاينې په برخه کې اوسمهال تر ټولو ستر خنډ د دغه تفکر شتون دی چې اسلامي امارت د پخواني رژيم له نسکورولو سره اوس په هېواد کې يوازينی غالب ځواک دی او له دې کبله له سياسي مخالفينو سره د خبرو اترو اړتيا نشته، بلکې که هغوی غواړي دلته د اوسېدو اجازه لرلی شي. دا تفکر هم شته چې طالبانو تر ۴۰ زياتو هېوادونو ته ماتې ورکړې او په راتلونکي کې به هم بل داسې ځواک نه وي چې د دوی پر وړاندې مقاومت وکړای شي، خو بايد په ياد ولرو چې د اسلامي امارت مخالفين کېدای شي د دې وړتيا پيدا کړي چې لږ تر لږه دوامداره امنيتي بې ثباتي او ګډوډي رامنځته کړي.
- د نظام د راتلونکي په اړه ابهام هم يو لوی مانع دی او د نظام د مخالفينو په شمول ډېری افغانان اوس نه پوهېږي چې د هېواد د نظام ډول او چوکاټ به څه وي او په ټوله کې د هېواد راتلونکی برخليک په کوم لوري روان دی. د دې ترڅنګ اوسمهال د قانون تشه موجوده ده او هر څه د فرمانونو او حتی د سليقې له



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

مخې مخته ورل کېږي. که په دې تړاو د اسلامي امارت له لوري وضاحتونه وړاندې شي او په ځانګړې توګه داسې لارې چارې وړاندې شي چې د واک ګډون پراخ کړي، نو ډېرى خلک به راتګ ته زړه ښه کړي.

- د تېر نظام پرځېدو او د نظامي ځواک له لارې د اسلامي امارت حاکمېدو دا تفکر هم رامنځته کړی، چې د تېر نظام اړوند چارواکي او منسوبين حق نه لري چې د هېواد په سياست کې رول ادا کړي، ځکه هغوی په خپل امتحان کې ناکام شوي دي. له دې کبله اوس هغو مطرحو سياسي شخصيتونو ته هم د رول لوبولو چانس نه ورکول کېږي، چې کولی شي د سياسي مخالفينو په پخلاينه کې مثبت رول ولوبوي.
- د اسلامي امارت له راتګ وروسته په نظام کې له تخنيکي او ټيټو بستونو پرته د رياست او مديريت تر کچې ټولې حکومتي څوکۍ يوازې د طالبانو غړو ته ورکړل شوي دي او دغه وضعيت د اسلامي امارت له سياسي مخالفينو او نورو له هېواده وتلو افغانانو سره داسې باور رامنځته کړی چې هېواد ته د راګرځېدو په صورت کې به د دندې ترسره کولو زمينه ورته برابره نه شي.
- يو شمېر داسې پېښې هم شوي دي، چې ځينې شخصيتونه پکې تحقير شوي دي او له همدې کبله نور هم دا ګومان کوي چې هېواد ته د راستنېدو په صورت کې به توهين او تحقير شي او په هېواد کې به د نظربند خلکو په څېر ژوند کوي.
- او وروستی او مهم خنډ دا دی، چې د اسلامي امارت ځينو تازه پرېکړو او اقداماتو په پراخه کچه په هېواد کې دننه او بهر نهيلي راټوکولې ده، چې مهمې بېلګې يې د نجونو پر تعليم د بنديز غځېدا او همدا راز د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له لوري د طالبانو د پخوانۍ دورې په څېر اقدامات دي. دې چارې دا تفکر تقويه کړی چې د طالبانو تر واکمنۍ لاندې ژوند کول ستونزمن دي او په هېواد کې آزادۍ په محدودېدو دي. په ورته وخت کې د اسلامي امارت ډېری چارواکي هم له دغو وروستيو اقداماتو خوښ نه بريښي او داسې ښکاري چې تراوسه په هېواد کې د نظام د سياستونو په اړه خپله د دوی ترمنځ هم بشپړ تفاهم نشته، نو له همدې کبله له هېواده وتلي افغانان هم په داسې وضعيت کې زړه نه شي ښه کولی چې هېواد ته راوګرځي.

## د ملي مصالحې په برخه کې شوي اقدامات او اغېزې يې

په مجموعي توګه د ملي پخلاينې په برخه کې د پخواني نظام له پرځېدو وروسته عمومي عفوه، وروسته بيا د اسلامي امارت له مخالفينو سره ځينې مذاکرات او ورپسې له افغانانو سره د اړيکو او هېواد ته د هغوی د راستنولو کميسيون جوړول يې مهم ګامونه دي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د پخواني حکومت د پرځېدو په درشل کې د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري د عمومي عفوې اعلان وشو، چې له مخې يې د پخواني رژيم ټولو اړوندو چارواکو او منسوبينو ته د سر د خونديتوب ډاډ ورکړل شو. د طالبانو دا چلند په ملي او نړيواله کچه وستايل شو او په حقيقت کې د ملي روغې جوړې په برخه کې د هېواد په تاريخ کې يو بې مخينې گام و. که څه هم وروسته بيا داسې راپورونه هم خپاره شول، چې د هېواد په ځينو سيمو کې غچ اخيستونکي اقدامات شوي دي؛ خو له يوې خوا دا راپورونه د طالبانو د مخالفينو له لوري تبليغات گڼل کېدل او له بلې خوا د اسلامي امارت چارواکو بيا وروسته څو ځله خپلو ځواکونو ته ټينگار وکړ چې د عمومي عفوې له اعلان څخه به سرغړونه نه کوي او د سرغړونې په صورت کې به له سزا سره مخ کېږي. په مجموع کې دا فرمان تر ډېره حده عملي شو او په ځانگړې توگه د پخواني حکومت لوړپوړو چارواکو ته پوره درناوی وشو.

د اسلامي امارت د سرپرست حکومت له جوړېدو وروسته په تېرو کابو اوو مياشتو کې د طالبانو تگلاره دا وه، چې ټول افغانان کولی شي په خپل هېواد کې ژوند وکړي او په ځانگړې توگه د پخواني حکومت چارواکو ته يې عموما بلنه ورکړې چې له مخالفت څخه لاس واخلي او خپل هېواد ته راستانه شي. کابل ته د طالبانو له داخلېدو ايله څو ورځې وروسته مولوي اميرخان متقي په يوه صوتي پيغام کې د اسلامي امارت د وسله والو مخالفينو مشرانو ته وويل، چې له وسله وال مخالفت څخه د لاس اخيستلو په صورت کې د دوی سر په امن دی او په کابل او نورو ولايتونو کې د نورو پاتې شوو چارواکو په څېر به يې پر وړاندې هېڅ ډول ستونزه او يا غچ اخيستونکي اقدامات نه ترسره کېږي. خو دا پيغام په ټوله کې د اسلامي امارت وسله والو مخالفينو له هماغه لومړي سره د تسليمېدو په معنا واخيست او هماغسې چې طالبانو په تېرو کلونو کې د حکومت له لوري د سولې غوښتنې د تسليمېدو په معنا بللې، اوس هم هغو کسانو چې له طالبانو سره يې د مقاومت لاره غوره کړه، د خپلو غوښتنو له منل کېدو پرته له مقاومت لاس اخيستل د تسليمېدو په معنا وبلل او جگړې ته يې تر خپله وسه دوام ورکړ او لا هم د مقاومت او جگړې هڅې کوي.

د خبرو اترو له لارې د بين الافغاني روغې جوړې په برخه کې لومړنی اقدام د اسلامي امارت له حاکميت کابو څلور مياشتې وروسته وليدل شو. دا اقدام په ايران کې د اسلامي امارت د مخالفينو له يوه پلاوي سره د بهرنيو چارو د سرپرست وزير مولوي اميرخان متقي تر مشرۍ لاندې يوه پلاوي مذاکرات وو، چې پکې د طالبانو له لوري دا پيغام وړاندې شو چې هغوی هېواد ته راستنېدلی شي؛ خو له دې پرته د هغوی پر غوښتنو بحث کولو ته کوم مثبت غبرگون پکې ونه ليدل شو.

د دغو هڅو په پايله کې کابو شپږ مياشتې وروسته د پخواني حکومت لومړنی لوړپوړی چارواکی هېواد ته راستون شو. عبدالسلام رحيمي په تېر نظام کې د سولې په چارو کې د دولت وزير او د ولسمشر د دفتر رئيس و، چې د اسلامي امارت له حاکميت وروسته له هېواده وتلی و، خو اوس بېرته کابل ته راستون شو او د طالبانو د چارواکو له لوري يې تود هرکلی وشو. د بهرنيو چارو سرپرست وزير مولوي اميرخان متقي له نوموړي سره په ملاقات کې وويل: شل کاله

وړاندې طالبانو ته د وژل کېدو، زندان او یا هم غرونو ته د ختلو لارې په مخ کې وې، خو اوسنی نظام بیا خپلو مخالفینو ته بلنه ورکوي چې راشي او دلته سوله ییز ژوند وکړي.

وروسته بیا له افغانانو سره د اړیکو او هېواد ته د هغوی د راستنولو کمیسیون جوړېدل په دې برخه کې ترټولو مهم ګام و چې د اسلامي امارت له لوري واخیستل شو. دغه کمیسیون د کانونو او پطرولیم وزارت د سرپرست مولوي شهاب الدین دلاور په مشرۍ جګ پوړو چارواکو څخه جوړ دی؛ خو له طالب چارواکو پرته نور افغان شخصیتونه پکې حضور نه لري. مګر د دغه کمیسیون د دندو او اهدافو په اړه هېڅ ډول وضاحت نه دی ورکړل شوی. له دې کبله اوس داسې ښکاري چې اسلامي امارت پر خپله همدې تګلاره چې پخواني چارواکي او سیاسیون هېواد ته راستنبدلی شي، اکتفا کړې ده. خو دا تګلاره د حامد کرزي په دوره کې د سولې له پیل شوي بهیر سره ورته والی لري، هغه مهال هم د سولې د عالي شورا او نورو مشابه بنسټونو له لارې د طالبانو افرادو ته بلنه ورکول کېده چې له جګړې لاس واخلي او سوله ییز ژوند ته راوګرځي؛ خو هغه بهیر هېڅکله هم هغسې پایلې ونه لرلې، چې تمه یې کېده؛ ځکه په هغه بهیر کې د ستونزې اساسي جرړې او عوامل له پامه غورځول شوي وو او یوازې د مادیاتو او د سر د خوندیتوب په مقابل کې د مقابل لوري افراد تسلیمېدو ته هڅول کېدل. اوس هم غالب ګومان دا دی چې که څه هم یو شمېر چارواکي ښایي د طالبانو د همدغه دریځ پر اساس کابل ته راشي، مګر ډېری مخالفین یې یو شمېر داسې غوښتنې لري چې ښایي په اړه یې له مذاکرې او جوړجاړې مخکې هېواد ته راستانه نه شي، بلکې هغوی به تل د اوسني نظام پر وړاندې د وسله وال مقاومت په لټه کې وي. شک نشته چې یو شمېر پخواني فاسد چارواکي ښایي داسې غوښتنې ولري چې منل کېدل یې ناشوني وي او داسې ښکاري چې هغوی یوازې او یوازې د وسله وال مقاومت لپاره د ملاتړ موندلو په لټه کې دي؛ خو په دې کې هم شک نشته چې یو زیات شمېر نور سیاسیون او پخواني چارواکي ښایي منطقي او داسې غوښتنې ولري چې د عامو افغانانو له غوښتنو سره سمون لري.

له بلې خوا د اسلامي امارت د چارواکو څو سفرونو دا هم په ډاګه کړه چې په نړیواله کچه هم د ځینو هېوادونو له لوري د طالبانو او د هغوی د مخالفینو ترمنځ د خبرو اترو هڅې شته دي؛ ځکه د ډېری هېوادونو دریځ اوسمهال دا دی چې د اسلامي امارت پر وړاندې د وسله وال مقاومت پلوي نه کوي. دا که له یوې خوا یو غوره فرصت دی، خو له بلې خوا بیا که د سولې همدا هڅې مخته ځي، د سولې دا ابتکار به بیا هم د نورو په لاس کې وي او هغوی به پکې خپل شرطونه او غوښتنې هم ځای پر ځای کوي.

د پورتني بحث په پام کې نیولو سره جوتېږي، چې اسلامي امارت په ټوله کې د راتلونکي ثبات لپاره د ملي روغې جوړې اهمیت درک کړی؛ خو په دې برخه کې تراوسه منظمه تګلاره نشته او منظم کار نه دی شوی. د دغې قضیې استعجالیت او اهمیت ته په کتلو سره په لاندې برخه کې پر راتلونکو اړینو ګامونو بحث کوو.

## د ملي پخلاینې لپاره راتلونکي ګامونه او لارنقشه

د اوسنۍ مرحلې جدي اړتیا ده چې د اوږدمهالي ثبات او سولې د راتګ د دغه فرصت له ضایع کېدو او د احتمالي بې باوریو له زیاتېدو وړاندې اسلامي امارت له ډېرى سیاسیونو او پخوانیو چارواکو سره د مذاکراتو او جوړجاړي لپاره لاندې ګامونه پورته کړي:

**لومړی:** ملي تفاهم د هېواد د راتلونکي ثبات لپاره په اوسني وخت کې تر ټولو مهم او عاجل لومړیتوب دی او دا چې اوس د ملي تفاهم او ملي مصالحې لپاره زیات فرصتونه شته دي، اسلامي امارت باید د دغه لومړیتوب اهمیت او استعجالیت درک کړي او په اړه یې په عاجله توګه خپلمنځي مشورې او تفاهم ته اقدام کړي.

تراوسه د ملي مصالحې اړوند د مقابل لوري د غوښتنو په اړه د طالبانو ترمنځ هم کوم روښانه تفاهم نشته؛ او له همدې امله په اوسني پړاو کې جدي اړتیا دا ده چې اسلامي امارت د هېواد د ملي او اسلامي منافعو په رڼا کې خپلې سرې کرښې وټاکي او دا روښانه کړي چې پر کومو څیزونو مذاکره کېدلی شي. غالب ګومان دا دی، چې د اختلاف ټکي خورا کم دي، ځکه دواړه لوري په هېواد کې یو داسې اسلامي نظام غواړي چې ټولې پرګنې پکې خپل ځان وګوري. د دې ترڅنګ، په داخلي کچه د حکومتولۍ او واکمنۍ د تګلارو په اړه د اسلامي امارت د چارواکو ترمنځ تفاهم ته اړتیا ده. اوس ښکاري چې په نظام کې دننه د نظرونو اختلاف شته دی، ترڅو چې په نظام کې دننه تفاهم رامنځته نه شي، مخالف افغانان هم باور نه شي کولی.

**دویم:** تراوسه د ملي مصالحې په اړه د اسلامي امارت دریځ او تګلاره په بشپړ ډول روښانه نه ده، که څه هم د اسلامي امارت ځینې لوړپوړي چارواکي وخت نا وخت له هېواده وتلو سیاسیونو او پخوانیو چارواکو ته د بېرته راتګ بلنه ورکوي او نوی جوړ شوی کمیسیون هم په همدې موخه رامنځته شوی دی؛ خو په ټوله کې اوس اړتیا دا ده چې د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري رسما یو داسې فرمان صادر شي چې د ملي تفاهم په اړه پکې روښانه پیغام او د اسلامي امارت تګلاره او رسمي دریځ څرګند شي.

طالبان اوسمهال له دې کبله هم د روغې جوړې په اړه ډېره توجه نه کوي ترڅو داسې ونه ښودل شي چې کوم جدي مخالفت لا هم شته دی، بلکې په دې توګه داسې ښودل کېږي چې د دوی مخالفین په بشپړ ډول وځپل شول او نور کوم جدي ګواښ پاتې نه دی. خو اندېښنه دا ده چې اوسنۍ ارامي به موقتي وي او که د اوږده مهال لپاره د مخالفتونو د له منځه وړلو بنسټیز اقدام ونه شي، په راتلونکي کې بیا ګډوډیو او ګواښونو ته زمینه برابرېږي.

**دریم:** د ملي روغې جوړې د هڅو د بریالي کېدو لپاره باید د ځینو پخوانیو سیاسي څېرو په شمول د جګ پوړو سیاسیونو او بې طرفه مشرانو یوې شورا ته دنده او امکانات ورکړل شي، څو له هېواده بهر تللو افغانانو سره خبرې اترې وکړي او له اسلامي امارت سره د هغوی مذاکراتو او جوړجاړي ته لاره برابره کړي. د اسلامي امارت لوړ پوړي

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

چارواکي که څه هم دا امتياز لري چې له مقابل لوري سره ښايي تر يوه بريده د پرېکړو کولو صلاحيت ولري او مقابل لورى هم باور پرې وکړي، خو په لومړي سر کې د دوى ترمنځ د باور او ارتباط جوړول ډېر عملي نه ښکاري او په منځ کې داسې خيرغوښتونکو افغان شخصيتونو ته هم جدي اړتيا ده چې باور جوړونې او مذاکراتو ته لاره هواره کړي.

**څلورم:** د سيمې او نړۍ په کچه له ښلابېلو هېوادونو سره چې په افغانستان کې د سولې طرفدار دي، اړيکې ونيول شي او د هغوى له لارې هم له اړوندو افغانانو سره خبرې اترې وشي او له مخالفت څخه راوګرځول شي. دغه هېوادونه کېداى شي په يو ډول د درېيمګړو لورو په څېر رول ادا کړي.

**پنځم:** د مذاکراتو په صورت کې يوازې پر داسې پيغامونو ټينګار ونه شي چې معنا يې د مقابل لوري لپاره يوازې او يوازې تسليمېدل وي. حقيقت دا دى چې د اسلامي امارت په مخالفت کې ولاړ افغانان خپلې مشروع او غيرمشروع غوښتنې لري، ځکه نو اړتيا ده چې لږ تر لږه د هغوى پر مشروع غوښتنو مذاکراتو او بحثونو ته لاره هواره شي او د هغوى خبره واورېدل شي.

د پخلاينې او جوړجاړي په قضيه کې يوه مسئله دا ده چې طالبان اوسمهال خپل مخالفين د منظمې کتلې په توګه نه مني او فکر کوي په داسې کولو سره په راتلونکي کې ستونزې ورته جوړېږي. دا مسئله بايد د ملي تفاهم او روغې جوړې خنډ ونه ګرځي، بلکې له مقابل لوري سره منحيث د افغانانو مذاکرات وشي، مهمه نه ده چې هغوى د ځان لپاره څه نوم غوره کوي.

**شپږم:** د پورتنيو اقداماتو ترڅنګ يو تر ټولو مهم ګام دا دى، چې د راتلونکي نظام د نوعيت په اړه وضاحتونه وړاندې شي. په دې برخه کې يو مهم بحث د داخلي او ولسي مشروعيت او مشارکت طرحه او ميکانيزم وړاندې کول دي. دا مهمه نه ده چې د اسلامي امارت مخالفين دې په واک کې شريک کړل شي، بلکې لږ تر لږه د داسې يوه چوکاټ او ميکانيزم د وړاندې کولو اړتيا شته ده، چې سياسي او اجتماعي تنوع ته لاره هواره کړي. له دې کبله په لومړي ګام کې لږ تر لږه د اساسي قانون لپاره چې د نظام راتلونکى پکې مشخصېږي، اقدام پکار دى؛ ځکه په اوسني مبهم وضعيت کې به ډېرى افغانان راتګ ته زړه ښه نه کړي.

## د ملي مصالحې د هڅو متوقع پايلې

1. د ملي مصالحې د هڅو د بريالي کېدو په صورت کې به د سيمې او نړۍ په کچه د ښلابېلو هېوادونو او نورو مغرضو کړيو د لاسوهنو مخه ونيول شي، ځکه اوسمهال د ټولو هغو لورو او هېوادونو لپاره يوازېنۍ حربه همدا ناراضي افغانان دي ترڅو پرې پانګونه وکړي او له لارې يې پر اسلامي امارت فشارونه وارد کړي او خپلې موخې ترلاسه کړي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

2. سره له دې چې داسې تمه هم نشته چې ټول ناراضي سیاسیون به راپخلا او هېواد ته راستانه شي؛ خو لږ تر لږه د ملي مصالحې هڅه او د زیات شمېر سیاسیونو راتګ به دا پایله له ځان سره ولري، چې په راتلونکي کې به د جګړو او ګډوډیو امکان کم شي.

3. د اوسني نظام د مخالفینو له راتګ سره به نړۍ ته هم د اسلامي امارت یو ښه انځور وړاندې شي او د ټولشمولیت قضیه به هم تر یوه بریده هواره شي، چې مستقیما به له اسلامي امارت سره د نړیوالو پر چلند مثبتې اغېزې وکړي. په دغو مثبتو اغېزو کې د رسمیت پېژندنې د شونتیا او اقتصادي وضعیت ښه والی یادولی شو، چې د نړیوالو د چلند له ښه کېدو او مرستو له زیاتېدو سره یې زیاته شونتیا لیدل کېږي.

4. شک نشته چې د هېواد جوړول خورا زیاتو هڅو ته اړتیا لري او بهر ته د تللو افغانانو راتګ به د هېواد په بیارغونه او د حکومتولۍ په پیاوړي کولو او تقویه کې هم مرسته وکړي او ترڅنګ به یې تر دې زیات د لوستو افغانانو او په اصطلاح د مغزونو له تېښتې مخنیوی وکړي.

5. همدا راز که د ملي روغې جوړې په جریان کې د مقابل لوري ځینې هغه مشروع غوښتنې منل کېږي، چې د هېواد د ملي منافعو په ګټه وي، دا به په ټوله کې د هېواد پر راتلونکي ثبات هم مثبتې اغېزې وکړي. د بېلګې په توګه د سلوکیاتو بدلون او د سلیقې د حاکمیت پر ځای د قانون حاکمیت ته لاره هوارېدل یادولی شو.

پای

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بېړپړي او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بدایني لپاره فعالیت کوي.